خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها

ILSAA
IMMIGRATION LEGAL SERVICES
FOR AFGHAN ARRIVALS



سلام! زه علي يم. زه دلته د دې لپاره يم چې ستاسو سره د هغو مهمو مسايلو په اړه مرسته وکړم چې تاسو يې بايد په متحده اياالتو کې د دايمي استوګنې د غوښتنليک د ليږلو په وخت کې د وکيل سره په پام کې ونيسئ.

# د علي څخه پوښتنه وکړئ: ايا زه سفر کولای شم؟

د يو نوي راغلي افغان په توګه، ممکن تاسو افغانستان (يا بل هيواد ته) د بيا تللو په اړه پوښتنې ولرئ او وغواړئ پوه شئ چې ستاسو سفر به په متحده اياالتو کې ستاسي د دايمي استوګنې په خوندي ساتلو څه اغيزه ولري. سفر کول ستاسو په قضيې (کيس) کېدای شي منفی پايلې ولري، نو دا خورا مهمه ده چې تاسو د سفر پلان کولو څخه مخکې حقوقي مشوره ترلاسه کړئ.

ځينې اړين ټکي او مقررات شته چې ټول سفر کوونکي بايد ترې خبر واوسي، ولی دا چې تاسې ته کوم خطرونه مواجه دي هغه ستاسو په وضعيت پورې اړه لري. کيدای شي تاسې ته اړينه وي چې د I-131 فورمه ډکه کړئ (د سفر کولو د سند غوښتنليک). د لا زياتو معلوماتو لپاره لاندېنې جدول وګورئ. که تاسو غواړئ چی د I-131 فورمه وسپارئ، تاسو بايد د خپل کډوالۍ وضعيت پر اساس فورمه سمه ډکه کړئ. هغه مسافرين چې د سفر د جواز (travel authorization) سره متحده اياالتو ته بيرته راستنيږی کيدای شي چي د ګمرکاتو او سرحدي محافظينو لخوا و پلټل شي. سربيره پر دې، د سفر سند درلودل متحده اياالتو ته د بيرته ننوتلو تضمين نشي کولای. د ويزو او د سفر د قوانينو د معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د بهرنيو چارو وزارت (Department of State – DoS) د سفر لارښود ته مراجعه وکړئ. هلته تاسی د مختلفو هيوادنو په اړه تر ټولو تازه معلومات او صلا مشورې تر لاسه کولی شئ.

په لاندې خبرو اترو کې علي د متحده اياالتو څخه بهر د سفر په اړه ځينې عمومي پوښتنو ته ځوابونه وايي. هغه د ځوابونو د چمتوکولو لپاره د دې سند له دويمې نيمايی برخې د سفر د جدول څخه کار اخلي . تاسو کولای شئ د سفر جدول د يو ګړندي لارښود په توګه وکاروئ ترڅو معلومه کړئ چې سفر څنګه کولای شي ستاسود کډوالۍ په اوسني او يا راتلونکي وضعيت باندی اغيزه وکړي.

راځئ چې وګورو بشير بايد کوم ټکي په پام کې ونيسي که چيری هغه وغواړي بل هيواد ته سفر وکړي.



## د بشير قضيه (کيس)

بشير

بشير: ايا زه کولای شم بل هيواد ته سفر وکړم؟

علي: خوشحاله شوم چې تاسودا پوښتنه وکړه! سفر کولای شي چې د يو شخص دايمي اقامه ترلاسه کول په متحده اياالتو کې پيچلې کړي.

بشير: سفر څنګه کولای شي د امريکا په متحده اياالتو کې پر دايمي اقامې ترلاسه کولو باندې اغيزه وکړي؟

علي: د متحده اياالتو څخه د سفر اغيزې پدې پورې اړه لري چې تاسو کوم غوښتنليکونه سپارلي دي، ايا دغه غوښتنليکونه تاييد يا قبول شوي دي کنه ، او دا چې تاسې د خپل سفر په جريان کې د کومو هيوادونو د ليدولو اراده لرئ.

بشير: که زه وغواړم چې د متحده اياالتو څخه بهر سفر وکړم څه بايد وکړم؟

علي: که تاسو غواړئ چې د متحده اياالتو څخه بهر سفر وکړئ، د مهاجرت د يو وکيل سره خبرې وکړئ. ستاسو وکيل به وغواړي پدې پوه شي چې تاسو کوم غوښتنليکونه د متحده اياالتو دولت ته سپارلي دي، ايا د دې غوښتنليکونو څخه کوم يو منل شوی دی. سربيره پر دې، وکيل به دا هم معلومه کړي چې تاسی کومو اسنادو ته ضرورت لری چی د هغه هيواد چې تاسې ترې ليدنه کوئ، چارواکو ته د ننوتلو په وخت کی وښاياست.

## د سمیر قضیه (کیس)

راځئ وګورو چې سمیر باید څه په پام کې ونیسي کله چې هغه غواړي کاناډا ته سفر وکړي.



سلام ، زما نوم سمیر دی. زه  دافغانستان یوه تبعه یم خو اوس په متحده ایالاتو کې ژوند کوم او غواړم چې کاناډا ته ولاړ شم.

سلام سمیره زه غواړم په دې اړه نور معلومات ترلاسه کړم چې تاسو د کډوالۍ د پروسې په کومې مرحلې کې یاست . تاسو د متحده ایالاتو دولت ته کوم غوښتنلیکونه لیږلي او ایا دغه غوښتنلیکونه مو بررسي یا منل شوي دي ؟

زه یو ژباړونکی وم چې په افغانستان کې مې د متحده ایالاتو د دولت لپاره کار کاوه. ما تازه دایمي اقامه (ګرین کارت) ترلاسه کړ چې  زما د ځانګړې د کډوالۍ ویزې (SIV) پر اساس مې ګرین کارت ترلاسه کړ.

ستاسو د دایمي اقامې (ګرین کارت) تر لاسه کولو لپاره مبارکي درته وایم! لکه څنګه چې تاسو کولی شئ په لاندې چارټ (جدول) کې وګورئ ، عموماً ، وروسته له هغه چې یو څوک د خپل قانوني دایمي اقامې تاییدي ترلاسه کړي (چې د ګرین کارت په نوم هم پیژندل  کیږي)، دوی کولای شي چې د متحده ایالاتو څخه بهر سفر وکړي. مګر په یاد ولرئ ، دا تل سپارښتنه کیږي چې هغه هیواد ته د ننوتلو په اړه د ځانګړو مقرراتو لپاره د هغه هیواد سفارت سره وګورئ چې تاسو یې لیدنه کوئ.

ایا نور څه شته چې زه یې په پام کې ونیسم ؟

هر هیواد د خپلو پولو د داخلیدلو لپاره مختلف شرطونه او قوانین لري چې ځینې بیلګې یې لکه  واکسینونه، د سفر اسناد، هغه توکي چې باید وښودل شي، او هغه توکي دي چې د وړلو اجازه یې نشته. د هغه هیواد چې تاسو یې لیدنه کوئ د سفارت پاڼه یې د ځانګړو مقرراتو او داخلیدو قوانینو  لپاره وګورئ. متحده ایالاتو ته د بیرته ننوتلو په وخت تاسو باید خپل ګرین کارت چې د اعتبار نیټه یې نه وي ختمه شوې، خپل د هویت کارت (پاسپورت)، او هر بل سند که سرحدي او د ګمرکاتو چارواکي یې ستاسو څخه وغواړي. که تاسو د سفر وروسته متحده ایالاتو ته د بیا ننوتلو په اړه پوښتنې لرئ، مهرباني وکړئ د یو وکیل سره مشوره وکړئ.



# د صبریه قضیه(کیس)

اوس به افغانستان ته
د هغې د سفر په اړه له
صبریه پوښتنې واورو.



سلام! زما نوم صبریه ده زه غواړم چې د خپلې کورنۍ د لیدو لپاره افغانستان ته ولاړه شم.

سلام صبریې! زه ستاسو د کورنۍ لیدو لپاره ستاسو لیوالتیا درک کولای شم. ستاسو د امنیت او خوندیتوب لپاره، اوس مهال د بهرنیو چارو وزارت(Department of State – DoS) افغانستان ته د سفر توصیه نه کوي. تاسو کولای شئ افغانستان ته د سفر لپاره د بهرنیو چارو وزارت(DoS) د سفر سپارښتنو د لارښود څخه نور معلومات ترلاسه کړئ. د دې لپاره چې پوه شئ چې سفر به ستاسو د کډوالۍ غوښتنلیک په پروسه او وضعیت څه اغیزه وکړي، زه باید پوه شم چې تاسو د متحده ایالاتو دولت څخه د کډوالۍ کوم اسناد ترلاسه کړي دي. ایا تاسو کولای شئ ما ته د دې په اړه ووایاست چې تاسو د متحده ایالاتو له دولت څخه د مهاجرت کوم سندونه ترلاسه کړي، او زه به پدې ترتیب وکړای شم ستاسو د سفر خطرونه و ارزوم؟

زما وکیل د پناه غوښتنې غوښتنلیک لیږلی دی، خو تر اوسه مې د دې غوښتنلیک تاییدی نه ده ترلاسه کړې.

لکه څنګه چې تاسو په لاندینې سفر جدول کې لیدلی شئ، د پناه غوښتونکې په توګه د هیواد(متحده ایالاتو) څخه وتل خطرونه لري. افغانستان ته سفر کولای شي په متحده ایالاتو کې ستاسو د پناه غوښتنې د ترلاسه کولو خنډ وکرځي. په عمومي ډول، د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه د هغې ویرې پر اساس دي چې که چیرې تاسو خپل هیواد ته ستانه شئ، تاسو به د تبعیض پر بنسټ وځورول شی. په دی سبب، افغانستان ته بیرته سفر، کولای شي دا وښايي چې تاسو نور د تبعیضي ځوروني خطر یا ویره نه لرئ او ممکن د پناه غوښتنې وړ هم و نه اوسئ. د متحده ایالاتو دولت ممکن دا ګومان وکړي چې تاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک څخه انکار کړی دی او پریښی مو دی. که خپل د ځانګړی حالت په اړه پوښتنې لرئ، د صلاح مشورې په خاطر همیشه د یو وکیل سره وګورئ.

په هغه صورت کې چې زما د پناغوښتنې دوسیه د برسۍ په حال کې وي نورو هیوادونو ته سفر کول ستاسو په نظر څنګه دی؟

د دې په پام کې نیولو سره چې ستاسو د پناه غوښتنې دوسیه د بررسۍ په حال کی ده، مخکې له دې چې تاسو سفر وکړئ باید د مهاجر/ پناغوښتونکي د سفر سند ته نوملیکنه وکړئ او تر لاسه یی کړئ. یاد سند د اډوانس پرول سند(advance parole document) په نوم هم پیژندل کیږي او باید د سفر کولو د مخه د I-131 فورمه وسپارل شي. لطفاً په یاد ولرئ چې پرول ستاسو د پاسپورټ بدیل نشي کیدای او د متحده ایالاتو ته د بیا ننوتلو تضمین نه کوي. یو وکیل باید د سفر دمخه ستاسې اسناد تصدیق کړي، او زموږ مشوره دا ده چې مخکې له دې چې تاسې د سفر پلان جوړ کړئ ، قانوني مشورې تر لاسه کړئ. تاسو باید د سفر پلان جوړولو دمخه دا هم تایید کړئ چې د هغه هیواد لپاره چې تاسو د سفر کولو اراده لرئ د ویزې یا ننوتلو اړتیاوې څه دي.

نور څه شته چې باید په پام کې یې ونیسم؟

صبریه

دا ممکنه ده چې تاسو و نشئ کولی چې متحده ایالاتو ته د بیا داخل شئ حتی که تاسو سم اسناد هم ولرئ .تاسو ممکن په هغه هیواد کې د متحده ایالاتو سفارت ته مراجعه وکړئ چې تاسو یې لیدنه کوئ ترڅو د بیا ننوتلو بدیل سند لپاره غوښتنه وکړئ. د دې امکانات هم شته چې متحده ایالاتو ته بیرته راستنیده د اوږد ځنډ سبب شي، اوستاسې غوښتنلیک ممکن ومنل شي یا هم و نه منل شي.
د مهاجرت د یو وکیل سره مشوره وکړئ تر څو ستاسو لپاره د متحده ایالاتو څخه د بهر سفر اړوند د موجوده اختیارونو په اړه تاسو ته معلومات درکړي.

# د سفر جدول: ایا زه کولی شم د متحده ایالاتو څخه بهر سفر وکړم پداسې حال کې چې ما مهاجرتي وضعیت ته غوښتنه کړې وي او یا ما د مهاجرتي وضعیت تاییدي ترلاسه کړې وي ؟



لاندې جدول (چارټ) تاسې سره مرسته کولی شي تر څو پوه شئ چې سفر پر تاسو څه اغیزه کولی شي او دا تاسې ته ولې اړینه ده چې د سفر د پلان کولو څخه مخکې قانوني مشوره ترلاسه کړئ. د جدول( چارټ) کارولو لپاره لاندې درې ساده مرحلې تعقیب کړئ:

١. د لاندې جدول (چارټ) په لومړي کالم (عمودی قطار) کې هغه غوښتنلیک ومومئ چې تاسو د هغې په واسطه منل شوي یاست او یا یې تاسو د متحده ایالاتو دحکومت له خوا تعقیبوئ.
٢. د افقی قطار په تعقیبولو سره خپل ځانګړی انتخاب وموموئ چې ستاسو سره مرسته کولای شي
٣. د خپل ځانګړي وضعیت په اړه د لارښوونو لپاره د ایلسا (ILSAA) د یو وکیل سره مشوره وکړئ.

| د وضعیت دول | وضعیت درخواست | زه باید په څه پوه شم ؟ |
|---|---|---|
| پرول | د پرول وضعیت لرونکی شخص | عموماً، که یو پرولي (د پرول وضعیت لرونکی شخص) د متحده ایالاتو څخه ووځي ، د هغه کس پرول به همغه وخت پای ته ورسیږي کله چې دوي ولاړ شي. که یو پرولي غواړي له متحده ایالاتو څخه بهر سفر وکړي، هغه شخص باید د سفر سند (advance parole*;Form I-131) لپاره غوښتنه وکړي، او دغه ادوانس پرول سند د متحده ایالاتو د پرېښودو د مخه ترلاسه کړي. دا پروسه معمولاً څو میاشتې وخت نیسي. په هرصورت، حتی که چیرې هغه شخص ته اډوانس پرول ورکړل شي، حتی د لنډې مودې لپاره د متحده ایالاتو پرېښودل، کولی شي د هغه شخص پر وړتیا دنورو لنډمهاله او دایمي د مرستو ، په شمول د لنډمهاله خوندي حالت (TPS) او پناه غوښتنې (اسایلم) باندې اغیزه وکړي. که چېرته تاسو د پرول پر بنسټ د کار جواز (EAD) ولرئ، متحده ایالاتو ته په راوګرځیدو په هغه صورت کې چې مو د یاد سند تاریخ تیر شوی نه وي تاسو شاید کار کولو ته دوام ورکړی شئ. که چېرته د کار جواز (EAD) نلرئ او یا مو د کار جواز تاریخ تیر وي، تاسو باید د متحده ایالاتو ته د راستنیدو سره د کار جواز (EAD) د اډوانس پرول په بنیاد غوښتنه وکړئ. که تاسو په دې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو په اوسني یا راتلونکي کې د کډوالۍ په وضعیت اغېزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| د لنډ مهاله حفاظت شوی حالت (TPS) | ناڅرګند (د بررسی په حال کې) لنډ مهاله حفاظت شوی حالت-(TPS) | عموماً، د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کولو لپاره د لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت د (TPS) غوښتونکی باید د سفر سند ( advance parole*;Form I-131) لپاره غوښتنه وکړي او د وتلو څخه مخکې اډوانس پرول ترلاسه کړي. دا پروسه معمولاً څو میاشتې وخت نیسي. په هرصورت، حتی که چیرې یو کس ته اډوانس پرول ورکړل شي، حتی د لنډې مودې لپاره د متحده ایالاتو پرېښودل، ، کولی شي د هغه شخص پر وړتیا د نورو لنډمهاله او دایمي مرستو لپاره، په شمول د لنډمهاله خوندي وضعیت (TPS) او پناه غوښتنې باندې اغیزه وکړي. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کې د کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| | منل شوی لنډ مهاله حفاظت شوی حالت (TPS) | عموماً، د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کولو لپاره، د لنډمهال حفاظت شوی وضعیت (TPS) ګټه اخیستونکی باید د سفر جواز فورم( I-131) لپاره غوښتنه وکړي، او د I-512T فورمه ترلاسه کړي. دا د سفر اجازه نامه د هغه غیر اتباعو لپاره ده چې مخکې له دې چې متحده ایالتو څخه وو ځي باید یاد شوی سند تر لاسه کړي. د لنډمهاله محفاظت شوي وضعیت (TPS) د سفر سند د هغه کس پاسپورټ عوض نه شي کیدای، مګر دا د ثبوت په توګه منل کیدی شي چې دا شخص د ویزې د اړتیا پرته متحده ایالاتو ته د سفر اجازه لري. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ |

| د وضعیت ډول | وضعیت درخواست | زه باید په څه پوه شم ؟ |
|---|---|---|
| ځانګړې د مهاجرت ویزه (SIV) | ناڅرګنده (د بررسۍ په حال کې) ځانګړې د مهاجرت ویزه (SIV) غوښتنلیک | عموماً، د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کولو لپاره یو شخص باید د سفر سند (advance parole*;Form I-131) لپاره غوښتنه وکړي. او د وتلو څخه مخکې اډوانس پرول سند ترلاسه کړي. دا پروسه معمولاً څو میاشتې وخت نیسي. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| | منل شوي ځانګړې د مهاجرت ویزه (SIV) (مګر ګرین کارت یې نه دی ترلاسه کړی) | عموماً، د متحده ایالاتو څخه بهر سفر کولو لپاره یو شخص باید د سفر سند (advance parole*;Form I-131) لپاره غوښتنه وکړي او او د وتلو څخه مخکې ادوانس پرول سند تر لاسه کړي دا پروسه معمولا څو میاشتې وخت نیسي. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| | منل شوي ځانګړې د مهاجرت ویزه (SIV) (د ګرین کارت سره) | عموماً، وروسته له دې چې یو کس د خپل قانوني دایمي اقامې ثبوت ترلاسه کړي (چې د ګرین کارت په نوم هم پیژندل کیږي)، دوي ممکن د متحده ایالاتو څخه بهر سفر وکړي. سره له دې، تاسو باید دا فکتورونه په پام کې ونیسئ:<br>• پداسې حال کې چې قانوني دایمي اوسیدونکي یوازې متحده ایالاتو ته د ننوتلو لپاره خپل ګرین کارت ته اړتیا لري، بهرني هیوادونه ممکن نورې اړتیاوې ولري. د هغه بهرني هیواد سفارت سره اړیکه ونیسئ چې تاسو یې لیدنه کوی او په اړتیاوو یې ځان پوه کړئ.<br>• هوایي شرکتونه هم ښایي خپلې اړتیاوې ولري. د سفر کولو څخه مخکې د خپل هوایی شرکت په اړتیاوو ځان پوه کړئ.<br>• د ۱ کال په موده کې د ۱۸۰ ورځو څخه زیاد د متحده ایالاتو څخه بهر سفر مه کوئ (که یو لوی سفر وي یا څو کوچني سفرونه).<br>• ځیني اشخاص به په مشروط ډول ګرین کارتونه ترلاسه کړي. دا کسان باید په خپل ګرین کارت کې هر ډول وضع شوي شرایط تعقیب کړي.<br>که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| پناه غوښتنه یا اسایلم | ناڅرګنده (د بررسۍ په حال کې) پناه غوښتنې غوښتنلیک | په عمومي ډول، د پناه غوښتنې غوښتونکي باید خپل هیواد ته چیرته چې دی ځورول کیږي سفر و نه کړي ځکه ممکن دا داوطلبانه خپل هیواد ته بیرته ستنیدل وګڼل شي، پدې معنی چې هغه شخص ممکن د پناه غوښتنې وړ نه وي.<br>عموماً، بل ځای ته د سفر کولو لپاره یو پناه غوښتونکی باید د اډوانس پرول* (فورم I-131) لپاره غوښتنه وکړي او د وتلو څخه مخکې اډوانس پرول ترلاسه کړي که نه نو د هغه کس د پناه غوښتنې غوښتنلیک (اسیلم) به پریښودل شوي وګڼل شي. برسیره پردې، دا ډیره مهمه ده چې د سفر اسنادو (د بیلګې په توګه، پاسپورتونه) کوم چې د ځورونې هیواد لخوا صادر شوي وي د سفر کولو لپاره ورڅخه ډډه وشي، کوم چې کیدای شي داوطلبانه خپل هیواد ته ستنیدل و ګڼل شي.<br>برسېره پردې، د پناه غوښتنې غوښتونکي چې دحذف په مرحلو کې وی نشي کولی د وتلو وروسته متحده ایالاتو ته د بیا ځل لپاره داخل شي.<br>که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| | تائید شوی پناه غوښتنه یا اسایلم (دپناغوښتنی پر بنسټ څرګند یا ناڅرګند غوښتنلیک د ګرین کارت لپاره) | په عمومي ډول، پناه غوښتونکي (هغه څوک چې پناه ورکړل شوې وي) باید خپل هیواد ته چیرته چی دی ځورول کیږي. سفر ونه کړي ځکه چې دا ډول سفر ممکن د متحده ایالاتو د حکومت لپاره د هغه کس د پناه غوښتنې وضعیت پای ته رسولو لپاره اساس وګڼل شي. همدارنګه، د پناه غوښتونکي د حالت د لومړي کال په جریان کې له متحده ایالاتو څخه بهر سفر د دې سبب کېدلئ شي چې په متحده ایالاتو کې د فزیکي شتون د یو کال د پوره کېدو په مقابل کې ځنډ راپېښ کړي کوم چې د وضعیت د سمون لپاره اړین دی او کولی شي د قانوني دایمي اقامې لپاره د پناه غوښتونکي پروسه وځنډوي.<br>بل چیرې د سفر کولو لپاره، یو پناه غوښتونکی باید د متحده ایالاتو څخه د وتلو دمخه د مهاجرت د سفر سند فورم (I-131) لپاره غوښتنه وکړي. پناه غوښتونکی باید |

| د وضعیت ډول | وضعیت درخواست | زه باید په څه پوه شم ؟ |
|---|---|---|
| پناه غوښتنه یا اسایلم | تائید شوی پناه غوښتنه یا اسایلم (دپناغوښتنی پر بنسټ څرګند یا ناځرګند غوښتنلیک د ګرین کارت لپاره) | یوازې د مهاجرت د سفر سند په کارولو سره سفر وکړي او د دوی د ځوروونې هیواد څخه د اسنادو (پاسپورټونو په ګډون) سفر ونه کړي.<br>که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت د یو وکیل سره مشوره وکړئ |
| | د پناه غوښتنی(اسایلم) په اساس تایید شوی ګرین کارټ | په عمومي ډول، قانوني دایمي اوسیدونکي چې د خپل پناه غوښتنې حالت پر اساس یې ګرین کارت ترلاسه کړئ وي دوي باید پوه شي چې د دوي سفر خپل هیواد ته چیرته چې دوی ځورول کیږي ممکن د متحده ایالاتو حکومت لپاره د دوی د قانوني دایمي اقامې د پای ته رسولو لپاره اساس وګڼل شي.<br>بل ځای ته د سفر کولو لپاره، قانوني دایمي اوسیدونکي (د پناه غوښتنې د وضعیت پر بنسټ) کیدائ شي د کډوالۍ د سفر سند فورم (I-131) لپاره غوښتنه وکړي.<br>دوی باید یوازې د خپل ګرین کارت او د کډوالۍ سند سره سفر وکړي. دوی باید د خپل  هیواد چیرته چې دوی ځورول کیږي د اسنادو په کارولو سره سفر ونه کړي.<br><br>سره له دې، پدې اړه ځینی قواعد شته چې تاسو څنګه کولی شئ د خپل ګرین کارت سره سفر وکړئ:<br>• پداسې حال کې چې قانوني دایمي اوسیدونکي یوازې متحده ایالاتو ته د ننوتلو لپاره خپل ګرین کارت ته اړتیا لري، بهرني هیوادونه ممکن نورې اړتیاوې ولري. د هغه بهرني هیواد سفارت سره اړیکه ونیسئ او د سفر کولو په اړتیاوو یې ځان پوه کړئ.<br>• هوایی شرکتونه ممکن خپل اړتیاوې ولري. د سفر کولو دمخه د خپل هوایی شرکت سره په ضروري مسایلو ځان پوه کړئ.<br>• د ۱ کال په موده کې د ۱۸۰ ورځو څخه زیات د متحده ایالاتو څخه بهر سفر مه کوئ (که یو لوی سفر وي یا څو کوچني سفرونه).<br>• ځینې اشخاص به په مشروط ډول ګرین کارتونه ترلاسه کړي. دا کسان باید په خپل ګرین کارت کې هر ډول وضع شوي شرایط تعقیب کړي.<br>که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |
| د ایستلو مخنیوی یا  د شکنجې او ځورونی په وړاندی  حفاظتي تړون (CAT) | د ایستلو مخنیوی او  د شکنجې او ځورونی په وړاندی د  حفاظتي تړون (CAT) ناځرګند غوښتنلیک | خپل اصلي هیواد ته سفر مه کوئ.<br>عموماً، بل ځای ته د سفر کولو لپاره، د ایستلو مخنیوی او د شکنجې په وړاندی د حفاظتي تړون(CAT) غوښتونکی باید د سفر سند لپاره غوښتنه وکړي اډوانس پارول*؛ فورمه (I-131) او د وتلو څخه مخکې اډوانس پرول ترلاسه کړي که نه نو د هغه شخص غوښتنلیک به  پریښودل شوي وګڼل شي.<br>که تاسو د پناه غوښتنې وړ نه یاست او یوازې د  ایستلو مخنیوی او د شکنجې په وړاندی د  حفاظتي تړون(CAT) وړ یاست، تاسو باید د متحده ایالاتو څخه بهر سفر ونه کړئ.<br>سربیره پردې ، د د خذف کولو په پروسه کې غوښتونکي نشي کولئ سفر وکړي.که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |

| د وضعیت ډول | وضعیت درخواست | زه باید په څه پوه شم؟ |
|---|---|---|
| د ایستلو مخنیوی یا د شکنجې او ځورونې په وړاندې حفاظتي تړون (CAT) | د ایستلو مخنیوی او د شکنجې او ځورونې په وړاندې د حفاظتي تړون (CAT) تایید شوی غوښتنلیک | د متحده ایالاتو څخه بهر د ایستلو مخنیوی او د شکنجې په وړاندې د حفاظتي تړون(CAT) تصویب شوي غوښتنلیک لرونکي د سفر کولو حق نشته. که تاسو متحده ایالاتو څخه ووځی ، تاسو ته به د دې ډول محفاظت پر بنسټ د بیرته راستنیدو اجازه درنکړل شي. که تاسو پدې اړه پوښتنې لرئ چې سفر څنګه ستاسو د اوسني یا راتلونکي کډوالۍ په وضعیت اغیزه کولی شي، د مهاجرت یو وکیل سره مشوره وکړئ. |

* اډوانس (مخکي تر مخکي) پرول: د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) ویب پاڼه داسې تعریفوي :

«اډوانس پرول تاسو ته اجازه درکوي چې د ویزې دغوښتنې پرته بیرته متحده ایالاتو ته سفر وکړئ. یو ترانسپورتي شرکت (هوایی شرکتونه) کولی شي د ویزې پر ځای اډوانس پرول سند د ثبوت په توګه ومني چې تاسو متحده ایالاتو ته د سفر کولو قانوني اجازه لرئ. د اډوانس پرول سند ستاسو د پاسپورت ځای نه نیسي.

لطفا په یاد ولرئ چې د اډوانس پرول اسناد درلودل دا تضمین نه کوي چې تاسو به متحده ایالاتو ته بیا داخلید اجازه ولرئ. په هوایي ډګر او یا هم پوله یا سرحد باندې، د متحده ایالاتو د ګمرکاتو او دسرحدي خوندیتوب اداري (CBP) مامور به دا وروستۍ پریکړه کوي چې آیا تاسو ته متحده ایلاتو ته د داخلیدو اجازه درکړل شي او که نه.



د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادی سیالۍ له لارې ترلاسه کړي دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره دمهاجرت حقوقی خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیږي.